AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورآغا توخی ۲۰۲۲/۰۱/۰۱

# بي بي سي سره زما بشپړه مرکه

**(د بي بي سي په استازيتوب د دې مرکې کوربه د بريتانيې لوی درستيز، جنرال نېک کارټر، و)**

**جنرال کارټر: ښاغلی جمهور رئيس، خوښ يم چې د دې مرکې فرصت مو برابر کړ. د کابل د سقوط او واک ته د طالبانو د رسېدو څخه ۱۰۰ ورځې اوښتې. ما او تاسي د سقوط څخه مخکې ورځو کې د ډېرې خبرې او بحثونه کړي. د سقوط څخه وروسته تاسي سره خبرې نه کول ستونزمن و او اوس ښه فرصت برابر شو چې څه د پاسه ۱۰۰ ورځې وروسته خبرې کولی شو. فکر کوم لومړنی شی چې په دې مرکه کې غواړم وارزوو، دا ده چې موږ ټولو سړکال د اگست په مياشت کې دومره په چټکی سره د طالبانو واک ته رسېدو سره ټکان خوړلی و. چې له امله مو په چټکی سره هېواد پرېښود. زما په نظر همدا موضوع به زموږ د خبرو د پيل لپاره مناسبه وي چې وپوښتم تاسي ولی هېواد پرېښود. غواړم پدې اړه وضاحت ورکړئ تر څو موږ پوه شو چې د هغې اونی په وروستيو کې [۱۴ او ۱۵ اگست] کې څه پيښ شول؟**

**جمهوررئيس غني: مننه ښاغلی جنرال. خوښ يم چې تاسي وينم او تا سره مرکه کوم. په واقعيت کې موږ دواړه [د افغانستان د مسئلې] لوبغاړي يوو. غواړم په تېرو شلو کالو کې له تاسي، د بريتانيا له دولت او د بريتانيا له خلکو څخه د مرستو او همکاريو په خاطر، په ځانګړې ډول له تاسي څخه چې د ايساف قوماندانی د معاون او بيا مو نورو دندو کې خدمت کړی دی، مننه وکړم. مستقيم راځم ستاسي د سوال ځواب ته.**

**زما د تللو لومړنی دليل، د کابل له ورانې څخه مخنيوی و. د واک په سر د مجاهدينو خپلمنځي جګړو پر مهال يو ځل کابل ويجاړ او د جنګ په ميدان بدل شوی و. د طالبانو دوه مختلفې ډلې له دوو مختلفو جهتونو څخه کابل ته د نږدې کېدو پر حال کې وې، د دوی تر منځ د پراخې جګړې قوي احتمال موجود و، چې په نتيجه کې يې د کابل پنځه ميلوني ښار خاورې سره خاورې کېده او خلک متضرره کېدل. زما دريز پدې اړه واضح و، ما نه غوښتل چې دويم اسد [بشار الاسد] شم. دويم؛ په پاتي کېدو سره مې يوې خونړۍ کودتا ته مشروعيت ورکول کېده. دا يوه کودتا وه، نه کوم سياسي جوړ جاړی. طالبانو د خپلو ټولو هوکړو او بيانيو څخه سرغړونه وکړه [او په زوره کابل ته ننوتل].**

**دريېم؛ ما نه غوښتل يو کودتا ته مشروعيت ورکړم، بلکې غوښتل مې چې راتلونکې کې د يو اساسي سياسي جوړجاړي ته لار پرانېستې وي. پر افغانستان د طالبانو تسلط، سوله او ملي يووالی ندی راوستی. هغه څه ته چې موږ اړتيا لرو، واقعي سوله او ملي يووالی دی.**

**او وروستی دليل؛ ما نه غوښتل چې د پاکستان ای اس ای خپل ارمان پوره کړي او جمهوريت تحقير کړي او ما په زور يوې بيانيې ورکولو ته مجبور کړي. يا تر دې هم بدتر به دا وی چې د يو افغان جمهور رئيس څخه استنطاق پيل کړي. دا ټول زما پاتې کېدو سره په حقيقت بدلېدل.**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اما اساسي دلیل چې ما هېواد پرېښود دا و چې زموږ امنیتي څواکونو سقوط کړی و، ټول [امنیتي] وزیران او د ملي امنیت سلاکار راغلل او ماته یې اطلاع راکړه چې څواکونه یې پاشل شوي او نشي کولای له کابل څخه دفاع وکړي. دا چې ولې داسې یو حالت ته ورسېدو او د دې باعث شو، پدې اړه هم ستاسې پوښتنې ته ځواب ورکولای شم.

جنرال کارټر: مننه، مشخصا هغه ورځ، هغه یکشنبه یوه عجیبه ورځ وه. زما منظور دا دی چې د هغې ورځې څخه په ذهن کې څه لرئ، په هغه ورځ څه پېښ شول؟

جمهوررئیس غني: هغې ورځ سره تړلې پیښې مهمې دي. یوه شپه مخکې (د آگست په ۱۴ تاریخ) ښاغلي استین (د امریکا متحده آیالاتو دفاع وزی) ماته خبر راکړ چې ټاکل شوې ۳۰۰۰ امریکایي څواکونه د کابل د هوایي ډګر د امنیت د تامین په خاطر راشي. هغه وویل: " هغوی د کابل د دفاع لپاره موظف شوي ندي، په تکرار سره یې وایم، هغوی د کابل د دفاع لپاره توظیف ندي." سهار د دفاع وزیر بسم الله خان راسره اړیکه ونیوله، وې ویل، طالبان د انسجام په حال کې دي او هیڅ هوایي ملاتړ نشته. همدارنګه، د نیویارک فدرالي خزانه د پنجشنبې یا جمعې (۱۲ یا ۱۳ د آګست) کې زموږ زیرمه شوې پیسې بندې کړې. موږ تقریبا نهه ملیارده ډالر زیرمه درلوده، چې پنځه ملیارده یې هلته وې. معمول دا و چې هره میاشت ۲۰۰ میلیونه ډالر موږ ته راتلل. دا بهیر ودرول شو او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي بلینکن وویل چې د پیسو لیږد ځکه ودرول شو چې دوی اندېښنه درلوده چې دغه پیسې طالبانو ته په لاس ور نه شي.

ماته په کراتو ویل شوي و چې طالبان نه غواړي چې ماسره د طرف په صفت تعامل وکړي، تاسې فعال نقش درلود او تاسې ته معلومه وه چې زما تأکید پر دې و چې پروسه کې د افغانانو د مشارکت لپاره یوه با عزته لار پیدا شي، زما ټینګار په لویه جرګه و. دا په بین المللي سطحه یو ترکیب و.

په ملي کچه، یوه ډله افراد لکه جمهوررئیس کرزی، ډاکټر عبدالله او نور راغلل او وې ویل، دوی باید طالبانو سره د مذاکراتو لپاره د باصلاحیته پلاوي په توګه وټاکل شي، ما هم دا واک هغوی ته ورکړ.

له دغه دوو، امنیتي او سیاسي، اقداماتو سره جمهوریت د یو نهاد په صفت له منځه لاړ. ما دا حقوقي صلاحیت نه درلود چې د جمهوریت داسې زوال ته مشروعیت ورکړم، هېڅ داسې کوم حقوقي میکانیزم نه و موجود چې زه واک پرته د لومړي معاون امرالله صالح بل چا ته انتقال کړم. مګر نه یواځې چې زه دوی ته د منلو وړ نه وم بلکې د جمهوررئیس معاون (صالح) هم د منلو وړ نه و.

په داسې یوه فضا کې، د هغې ورځې په سهار مې هیڅ فکر نه کاوه چې ماسپښین به زه وطن پرېښودلو ته اړ کېږم. موږ د بین المللي لوبغاړو، ناټو او د امریکا متحده ایالاتو، لخوا نه بلکې د ښاغلي رحیمی لخوا  خبر شوو چې د حقاني ډله ژمنه کړې چې کابل ته به نه ننوځي. اما دوه ساعته وروسته کیسه بدله وه. د هماغې ورځې په سهار د متحده عربي اماراتو یو استازی راغی چې طالبانو سره سیاسي جوړ جاړي ته د رسېدو لپاره مرسته وکړي.

له ما څخه وغوښتل شول چې له افغانستان څخه ووځم، همدارنګه یې زما د ملي امنیت د سلاکار په شمول یو شمېر همکارانو ته د وتلو لار راکوله. زما میرمن څخه چې د وتلو اراده یې نه درلوده، وغوښتل شول چې ووځي، هغوی لاړل. یو ـ یو نیم ساعت مخکې منتظر وم، چې له بسم الله خان څخه مې تماس ترلاسه کړ او د سقوط خبر یې راکړ. زه دفاع وزارت ته په روانېدو وم، ۲۵ دقیقې منتظر پاتې شوم. موټر راپسې رانغلل. وروسته د ملي امنیت سلاکار ډاکټر محب او د PPS مشر ښاغلی کوچی راغلل، وې ویل، PPS سقوط کړی. که زه په خپل موقف ودریږم، ټول وژل کیږو.

هغوی له ما څخه د دفاع توان نه درلود، ډاکټر محب ډېر ډار شوی و. هغوی دوه دقیقې وخت هم رانکړ. زما لارښوونه دا وه چې خوست ته د تګ لپاره ځان چمتو کړو. ډکتر محب راته وویل، خوست او جلال اباد هم سقوط کړی دی.

زه نه پوهېدم چېرته ځو. کله مو چې حرکت وکړ څرګنده شوه چې وطن پرېږدو. دغسې یو حالت ما هېڅ تیاری نه درلود، حتی تاسې د تماس موقع مساعده نه شوه ( که ما کولای شوای تاسې سره تماس ونیسم، تاسې په بین المللي دوستانو کې راته نږدې وی). یوازې تاسې سره مې پدې خبرې کړې وې که مو په یاد پاتې وي، دا وه چې که چېرې سیاسي توافق



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وشي او طالبان وغواړي زه افغانستان پریږدم، غواړم داسي ځای ته لاړ شم چي بې طرفه وي. پدې توګه کولای شم خدمت وکړم او بېرته راشم. بس دا هر څه واقعا ناځاپه و.
جنرال کارټر: یو نظر دا دی که تاسي چېرته پاتي وای او په ارګ کښې خوندي شوي وای، دغه تشه چي اوس رامنځته شوې، ور څخه مخنیوی کېده. ایا تاسي دغسي فکر کوئ؟ ایا هغه وخت داسي کوم څه ستاسو ذهن ته راغلل؟
جمهوررئیس غني: دا تشه په لاندې دلایلو نشوای ډکېدای. پرون تاسي ولیده چي د بي بي سي له لارې، یو افشاګر د بریتانیې د تخلیې برنامه په ډاګه کړه. هلته د ۱۵۰۰۰کسانو د تخلیي یادونه وشوه. د ناټو ټولو دخیلو هېوادونو د تخلیې پر یوې پالیسی پرېکړه کړې وه او اجرا شو.

جنرال کارټر: که لږ منصفانه اوسو، هیڅ چا د تخلیي پلان عملي نکړ، فکر کوم خلک متوجه شول ...

جمهوررئیس غني: نه، دا سمه نده. د تخلیي پلان عملي کېده. د تروریزم په وړاندې ټولو قطعاتو ته په خوست، جلال اباد، کندهار او کابل کې د وتلو وړاندیز شوی و. زموږ جنرالانو ته وعدې ورکول شوي وې. د ملي امنیت اداره چي یو حیاتي بنسټ و، کارمندان یې تخیله/ وویستل شول. پدې توګه یو رواني محیط (د رامنځته کېدو په درشل کې وږ) بل مهم ټکی جنرال کارټر دا دی چي په کابل پولیسو کې اصلاحات را نه وستل شول. اردو نسبتا اصلاح شوې وه، اما فقط نسبتا اصلاحات راغلي و. یوازې د جمهوررئیس مرستیال امرالله صالح یو کال هره ورځ د شپږ نیمو بجو جلسو مشري وکړه، چي په نتیجه کې وضعیت ښه او په کابل کې یو څه نظم او قانونیت رامنځته شوی و. طالبان ښارونو ته داخل شوي و، ستاسې اطلاعات هم همدا وایي. ما چا سره کار کړی وای؟ یوازې د PPS له ځواکونو سره؟ هغوی هم ټولو یونیفورم بدل کړ او محلي جامې یې واغوستې او تري تم شول. تېر ته کتل ډېر مهم دي، زما د لیدلوري له مخې بل طرف دا و: ایا د وسلې تر فشار لاندې راغلی وای او یو له تاوتریخوالي ډک غیر قانوني اشغال ته مې مشروعیت ورکړای وای؟
جنرال کارټر: ښاغلی جمهوررئیس، کوم شی چي ډېر خارق العاده دی، دا دی چي تاسي د اګست د میاشتې په پیل کې، احتمالا د افغانستان پارلمان ته وویل، تاسي کولای شی دا هر څه سم او مرتب کړی. کولای مو شوای کابل وساتئ، حتا په یاد مي دي چي د مارچ میاشتي په پیل کې مې لندن ټایمز ته مقاله لیکله چي په هغه کې مې ذکر کړه چي موږ باید د افغانستان له دولت ملاتړ وکړو. دا بالکل ممکنه وه. که د کلیدي ولایتونو مرکزونه د افغانستان دولت په واک کې وای، موږ بیا هم کولای شو د دې ټولو شخړو د حل لپاره یوه سیاسي حللاره پیدا کړو. دا د فکرمندی خبره ده چي په څومره چټکتیا هر څه د اګست په اوله اونی او بیا د اګست په منځ کې رامنځته شول؟

جمهوررئیس غني: یقینا، دلته باید یو لږ مسایل ذکر شي.
اول؛ زموږ لوجستیکي وابستګي ده. زموږ د تدارکاتو ځنځیر او د افغانستان د امنیتي برخي تدارکاتي قراردادونه امریکا پورې تړلي و. د جولای تر لومړی د امریکا د تخلیي پروسه بشپړه شوه (نظامي برخه). پدې کارسره ټول تمرکز پر ځواکونو و. خو اصلي مسئله قراردادونه ول ـ د قراردادیانو د شمېر په اړه مختلف تخمینونه شته، زه غواړم له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۷۰۰۰ پورې ذکر کړم. زموږ د تامیناتو ټول ځنځیر تر سخت فشار لاندې و.
دویم؛ افغان ځواکونه په ځانګړې ډول، ملي اردو له جوړېدو راهیسي په هوایي ملاتړ ولاړه وه. کله چي له ګنو ستراتیژیکو ګواښونو سره مخ شول، دوی په تاکتیکي کچه عملیات نشوای کولای. مثلاً: ۶۰۰۰ زرو پولیسو د شفافیت د شاخصونو [هغه شاخصونه چي مرسته کوونکو نهادونو د آپس په سیستم کې وضع کړي ول] په خاطر یې معاش نه و اخیستی.
داسي نظامي اډې وې چي تامینات یې د هوا له لارې کېدل. د امریکایي ځواکونو تخیله ځنځیري تاثیر درلود، ښاغلی جنرال، تر ټولو مهم دا دي چي له نظامي پلوه ستاسو د پوهولو لپاره ووایم چي ستراتیژیکي ساحي زموږ د نریوالو ملګرو له خوا په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نظر کې نه وې نيول شوي. افغانانو ته ستراتيژيکې ساحې ولسوالی او ولايات دي، او د دوی سقوط د افغانانو په منځ کې ځنځيري اغيز لري.
زموږ د بين المللي همکارانو له نظره، دغه ساحې عادي وې او ځنځيري اغيز يې نه درلود. پدې توګه که موږ غوښتل چې د کندهار او کابل څخه چې ستراتيژيکې ساحې وې دفاع وکړو، ځکه د جنوب دفاع مهمه وه، د ختيځو سيمو امنيت ټينګ و، دواړه ننګرهار او پکتيا محفوظې وې. زموږ ناتواني د ځواکونو نشتوالی و، ځکه کوماندو په تاکتيکي ډول پراګنده شوي وو.
ستونزه دا وه چې تکتيکي عمل د دې باعث شو چې ستراتيژيک اهداف تر سيوري لاندې راولې. دا له کويډ۱۹ سره چې يو طبيعي افت دی مقايسه کړی. د نړی بهترينو سيستمونو ونشوای کړای په چټکی او په موقع سره اجراات وکړي. دوو مياشتو کې ټول لوجيستيکي ځنځير له سره جوړول [ستونزمن و].موږ په بشپړ ډول خپل لوجيستيکي وابستګی ته له متوجه کېدو پرته ډاډه و، ځکه موږ ته داسي ډاډ راکړل شوی و چې بديلونه به وړاندې شي. خو تر وروستی ورځې، د اګست ۱۴ پورې د قراردادونو د بديل په لټه کې و.

جنرال کارټر: مخکې لدې چې د دښمن خبره وکړو، ايا فکر کوئ چې د وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په صفت تاسي د تغير راوستو لپاره د کافي صلاحيت او توانايي څخه برخمن وئ؟
جمهوررئيس غني: نه، ځکه امنيتي برخه څو خانګړنې درلودې چې زما تر نظر لاندې نه وې.
اول، کندهار کې امنيه قوماندان ما وټاکه او که پر ما تحميل شو؟ ټول منطقوي ځواکونه، محلي پوليس او ولسي پاڅون کوونکي او نور د محلي بانفوذه اشخاصو په واسطه ايجاد شول که نه؟ اول چا سقوط وکړ؟ همدوی. ډېر ملاحظات او استدلالونه شته چې يو جنګسالاره ستراتيژي ممکنه وه؟ خو، دا جنګسالاران و چې سقوط يې وکړ.

جنرال کارټر: کولی شو دې ټکي ته بېرته را وګرځو. ځکه کله چې عمومي وضعيت ته په کلي توګه ګورو، دا ټکی يکی مهم دی. ما غوښتل چې يوازې د اګست مياشتې د پيښو جمعه بندي وکړم، او فکر کوم افغانان غواړي پدې اړه ستاسو ليدلوری واوري. لومړنی مورد چې زه پرې پوهېږم او تاسي پرې پوهېږئ دا دی چې د متحده ايالاتو کانګريس، فکر کوم په وروستيو کې جان ساپکو د افغانستان لپاره د متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش غوښتي چې پر تاسو د ځينو تورونو تحقيق وکړي. هغه ادعا چې ګواکې کله تاسي وطن پرېښود، مشخص مقدار پيسي مو له ځان سره انتقال کړې، زه فکر کوم احتمالا تاسي غواړئ هغه ته ځواب ورکړئ. بله پوښتنه چې زيات افغانان غواړي هغه واوري، که څه هم توضيح ورکول شوي ده، تاسو لپاره به واقعا هم سخته وه، چې افغانانو ته د ۷ کالو تعهد او ژمنتيا وروسته په داسي حالاتو کې وطن پرېښود؟

جمهوررئيس غني: بالکل دا ډېره سخته پرېکړه وه، په تېرو سلو ورځو کې زه ليکل کوم، يوازې وم، فکر مې کاوه چې تر دې سخت شی به بل نه وي. زه مجبور شوم خپل ځان قرباني کړم تر څو کابل وژغورم او د د تاوتريخوالي څخه ډکه کودتا رسوا کړم، دا يوه کودتا وه او په هيڅ کچه يکې ولس په پام کې نه دی نيول شوی.
دويم، زه غواړم په قاطعيت سره ووايم، ما له هېواده هيڅ پيسي ندي ويستي. لومړني هدف تر رسېدو وروسته ټول هيليکوپترونه تالاشی ته ورکړل شول. نه يوازې د ښاغلي ساپکو له تحقيقاتو هرکلی کوم، بلکي لکه مخکې مې چې ددغې ادعا له اوازې سره وړانديز کړی چې غواړم د ملګرو ملتونو يا بل کوم تحقيقاتي بنسټ له خوا د دې موضوع تحقيق وشي، تاسي له کلونو راهيسي ما پيژنئ، ايا تر اوسه ما د ويزې، يا کوم بل کار په اړه کومه شخصي غوښتنه کړې؟ که ما غوښتلی چې پيسي تر لاسه کړم، کله مې چې د مالیي وزارت پرېښود، ما کولای شوای يو قراردادي شرکت يا عايداتي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هیله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

کمپنۍ جوړه کړم. ما د خپل عمر یوه ورځ هم د امریکا په شمول هیڅ یو هېواد ته کار نده کړی. د نورو رهبرانو برخلاف ما له امریکا، ناټو او هیڅ هېواده هیڅ پیسې ندي ترلاسه کړي. د افغانستان د ټولو سیاسي نخبه ګانو د ملي امنیت ریاست د اوپراتیفي بودیجې څخه پیسې تر لاسه کولې، ما هېڅکله هېڅ ډول پیسې له دغې ادارې نه دي اخیستې.
ما د حقوقو او مزایاوو پرته د مالیې وزیر او د کابل پوهنتون د رئیس په توګه کار وکړ. د جمهوري ریاست پر مهال ما خپل امتیاز د لومړی میرمن دفتر ته ورکول، څکه د هغې دفتر د تمویل لپاره کوم حقوقي میکانیزم نه و موجود.
زما د ژوند سبک سره ټول بلد دي. په پیسو به څه وکړم؟ هدف مې دا دی چې دا اساسي پوښتنه ده. تاسې پوهېږئ چې زما اساسي اړتیاوې ډېر ساده دي. زه له نړیوال بانک څخه په دوامداره توګه د تقاعد پیسې ترلاسه کوم، چې له هېواد څخه بهر د حساب درلودو اړتیا نه احساسوم. زما میرمنې شتمنې د هغې میراثي شتمنې ده چې په لبنان کې دی، موږ نور څه نلرو. فقط همدومره. زما زوی او لور پرانیستي او شفاف ژوند لري. ما هیڅ یو افغاني یا خارجي شرکت سره هیڅ ډول شراکت نه درلود. دا یو تور دی، داسې تور چې اول روسیې خپور کړ.
پدې اړه زه هر ډول تحقیق ته حاضر یم. زه خپل هېواد سره د تعهد په خاطر متمایز شخص یم. زه د نورو خلاف اطلاعاتي سازمانونو سره د ارتباط یا له نورو لارو نه یم راغلی. ما خپل شخصیت خپله جوړ کړی چې شتمنې مې خپله پیدا کړې ده. کله چې افغانستان ته راغلم په بتسدا (د میریلنډ ایالت یو ښار) کې مې خپل کور خرڅ کړ تر څو په هغو پیسو کابل کې کور جوړ کړم. بیا مې هم خپله شمتنې یو ځل په ۲۰۱۴کال کې چې کله جمهوررئیس شوم ثبت کړه او بیا مې په ۲۰۱۹کال کې اعلان کړه چې پنځه میلونه ډالره نقده شتمنې لرم. دا زما شخصي پیسې وې، ما اراده درلوده چې د خپل اجدادو په کلي کې یو فرهنګي مرکز چې کرنیز څېړنیز برخه هم پکې وي جوړوم. بله اراده مې نه درلوده. اوس چې کومه شتمنې لرم هغه په کابل کې زما کور دی، بیا هم کولای شئ د هغې په اړه په بشپړ ډول تحقیقات وکړئ. ما له افغانستان څخه بهر هیڅ پیسې ندي انتقال کړي، ما خپله شتمنې په دوامداره توګه له بهر څخه افغانستان ته انتقال کړې ده.

جنرال کارټر: مننه ښاغلی جمهوررئیس، د دې شفافیت په خاطر، زه پوهېږم دا به د هغو ډېرو افرادو لپاره چې پدې اړه یې پوښتنې درلودې، ډېر ګټور وي. اوس به هغه توافق ته را ګرځو چې د ۲۰۲۰کال د فبرورۍ په ۲۹لاسلیک شو. زه نه پوهېږم چې د هغې په اړه کومه ملاحظه وه که نه، ایا داسې کوم ټکي شته چې تاسې احساس کوئ کېدای شوای په متفاوت ډول تر سره شوی وای او بله نتیجه تر لاسه شوی وی؟

جمهوررئیس غني: د فبرورۍ په ۲۹ هوکړې څخه مخکې باید د ۲۰۱۸کال پېښې درک شي. دا جالبه ده چې د څو پېښ، تاریخونه یو شان دي. د ۲۰۱۸کال د فبرورۍ په ۲۸مه مې په کابل کې د کابل پروسې په نوم یو کنفرانس دایر کړ، طالبانو ته مې د سولې وړاندیز وکړ. د هغې په دوام تاشکنت کې یو بین المللي کنفرانس جوړ شو چې په هغه کې د سیمې هېوادونو د کابل پروسه تایید کړه. وروسې په کابل کې د علماوو یو کنفرانس د اوربند غوښتنه وکړه او ما له خنډ پرته د ۲۰۱۸کال په جون کې اوربند اعلان کړ. دا له ۱۹۷۸څخه را پدېخوا د هېواد په تاریخ کې لومړنی هر اړخیز اوربند و. وروسته له هغې (بیا هم تاسې ښکېل وئ) هغوی سره بحثونه وشول. د اندونیزیا، سعودي او افغانستان علماوو د جګړې د درېدو غږ وکړ. او د نومبر په میاشت کې په یو بین المللي کنفرانس کې چې د افغانستان د شریکانو لخوا په جنېوا کې جوړ شو، تعقیب او دوباره هغه تایید شو.
موږ واقعا د افغانانو په رهبرۍ او د افغانانو په مالکیت یو کنفرانس درلود، زما هدف د سولې پروسه کې د سولې وړاندیز و چې په ملي او بین المللي کچه د اسلامي نړۍ د علماوو، سیمې او بین المللي ټولنې لخوا تایید شو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

داسي نده چې متحده ایالات یو ناڅاپه په صحنه کې راښکاره شو او هڅه يې وکړه چې په سوله کې منځګړتوب وکړي. زما وړاندیز دا و چې د متحده ایالاتو یو ځانګړی سفیر یا ځانګړی استازی دې، موږ سره د پاکستان په برخه کې مرسته وکړي. د دې کار لپاره سفیر خلیلزاد منصوب شو. خو یو بل ټکی چې باید ستاسو د پاملرنې وړ وګرځي او موږ په بشپړ ډول په هغې پوه یو، داده چې جمهوررئیس ټرمپ د ۲۰۱۷کال په اګست کې د افغانستان او جنوب اسیا ستراتیژي اعلان کړه. په هغه ستراتیژۍ کې هغه له افغانستان څخه د وتلو تصمیم بیان کړ. هغه د افغانستان له دولت وغوښتل چې د اندازه ګیری وړ نتیجه محوره اصلاحات رامنځته کړي او پاکستان يې په مستقیم ډول مخاطب کړ چې تروریستانو ته دې پناه ورکول بند کړي او داسي نور...

د افغانستان خلک له جګړې ستړي شوي و. پوهیږئ، زموږ د متحدانو په ځانګړي ډول زموږ د مهم شریک متحده ایالاتو له نظره ډېره توجه جګړې ته شوې چې ناپایه بلل کېده. مګر دې ته پام نشته چې د دغې ناپایي جګړې متضررین افغانان و. د لګښت کټه بدله شوه. خلکو سوله غوښته. ما هم د سولې په بهیر فشار راوړ. د سولې د پروسې هرکلی په ملي کچه وشو، شفافه او د خلکو له خوا و. هغه پیښه چې د ۲۰۲۰کال د فبروری په ۲۹کې رامنځته شوه چې د سولې د یو توافق پر ځای موږ د خروج له توافق سره مخ شو. دا لومړنی برخه ده. کله چې جمهوررئیس ترمپ ...

جنرال کارټر: په بخښنې سره، کله چې وایې د خروج هوکړه، هدف مو د امریکا متحده ایالات دي؟

جمهوررئیس غني: د امریکا د خروج بهیر؛ هغه وخت طالبان د نړی د تر نورو تروریستي سازمانونو په صف کې حسابېده. دا د تروریزم یو نړیوال شاخص دی. د طالبانو د تروریزم بیه د افغانستان د ناخالص تولید شاوخوا ۱۸سلنه وه کمول و، وروسته دغه قیمت ۱۹.۷ ته لوړه شوه. یاد توافق داسي بنه خپله کړه چې د جمهوررئیس ټرمپ له وینا سره يې تضاد درلود ـ هغه ویلي و چې د خروج لپاره مشخصه موده نه ټاکي مګر دغه توافق موده وټاکله.

پدې هکله دویمه برخه دا ده چې په هغه ورځ دوه توافقه وشول. په کابل کې د لومړي ځل لپاره دوه پېښې تر سره شوې. د ناټو سرمنشي ستولتنبرګ او د امریکا دفاع وزیر اسپر لومړی کابل ته راغلل او یوه ګډه اعلامیه يې وړاندې کړه. پر دغې اعلامیې په میاشتو کار شوی و او د دوحې تړون سره موازي پرې کار روان و.

جنرال کارټر: په بخښنې سره دغه ګډه اعلامیه د دوی او چار تر منځ وه؟

جمهوررئیس غني: بلی، متحده ایالات، ناټو، د افغانستان دولت او ټول متحدینو تر منځ وه. زما پوښتنه دا وه چې ایا موږ کوم نوي توافق ته اړتیا لرو چې د دوه اړخیز امنیتی توافقنامې (( BSA ، د ستراتیژیک مشارکت توافقنامه،(( SPA، د ځواکونو د وضعیت توافقنامه، ((SOFA، د ناټو ځایناستی شي؟ د هغوی حقوقي کسانو تر ملاحظې وروسته وویل شول چې نه، ټولې توافقنامې تایید شوي دي او په ګډه اعلامیه کې به دا موضوعات شامل شي، بیا مې د جمهوررئیس له مرستیال امرالله صالح او نورو همکارانو پوښتنه وکړه. د دې دواړو ترمنځ (د دوحې تړون او ګډه اعلامیه) د تضاد په صورت کې کوم توافق حاکم دی؟ سفیر خلیلزاد وویل ګډه اعلامیه ځکه دا اعلامیه یو پیژندل شوي دولت سره شوې. مګر کله چې دغو دواړو هوکړو ته کتنه وشي، د دوی تر منځ څلور ټکي ډېر ژور تضاد سره لري..

جنرال کارټر: پدې اساس زه فکر کوم چې تاسې باید توضیح کړی چې بل توافق یا منځنی توافق.

جمهوررئیس غني: د امریکا دولت او طالبانو [توافق]؛ د فبروری د ۲۹ په ماسپښین په قطر کې د بهرنیو چارو وزیر پیمپو په حضور کې سفیر خلیلزاد لاسلیک کړ. په کابل کې وزیر اسپر وویل: « دا په شرایطو ولاړ یو توافق دی» بیا یې وویل: « تکراروم دا په شرایطو پورې تړلی یو توافق دی، که طالبان په خپلو ژمنو ونه دریږي، د امریکا متحده ایالات به خپل توافق هغوی سره لغوه کړي.» ستولتنبرګ وویل، «موږ به اجازه ورنکړو چې تېرې شل کلنې لاسته راوړنې له منځه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لاړې شي. ناټو د افغانستان او د افغانستان له خلکو سره ولاړ دی. اوس د دې وخت دی چې واقعي سولې په لور ګامونه پورته کړو» خو موږ سره توافق کې د افغانستان دولت، د افغانستان خلکو ته روښانه ده چې اوربند او سیاسي بحثونه د امریکا شاته تګ پورې تړلي دي او اصل همدا و چې « تر هغو چې په ټولو شیانو توافق ونشي، په هیڅ شي توافق نه کیږي»

خو تاسي که د طالبانو او امریکا توافقنامې ته وګورئ، په هغې کې یواځې دا راغلي چې د دواړو لورو ترمنځ اوربند به بحث موضوع وي. دلته هم ډېره ضروري ده چې پوه شو، طالبانو د افغانستان د اسلامي امارت په ویلو چې د امریکا لخوا په دې نوم په رسمیت نه پیژندل کیږي، خو امریکا سره د طالبانو په توافقنامه کې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته حتا اشاره هم نده شوې. هر څه یې په دې خلاصه کړل چې افغان اړخونه به طالبانو سره مذاکره کوي، پداسي حال کې چې موږ سره په توافق کې بیا مشخص شوي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت یوه ټول شموله هیات به طالبانو سره مذاکره کوي. همدارنګه د امریکا او طالبانو ترمنځ توافق کې، طالبانو ته د یو دولت په څېر کتل شوي، ټاکل شوې نه وه چې دوی به تروریستي سازمانونو ته ویزه او پاسپورټ ورکوي. بله مهمه موضوع چې واقعا د اکست د میاشتې د پیښو مهم دلیل ګڼل کیږي دا دی چې موږ سره د توافق (میاشتې میاشتې دا د بحث موضوع وه) کې راغلي و، چې امریکا د طالبانو او اسلامي جمهوریت دواړو ترمنځ د زندانیانو خلاصون تسهیلوي. هغه ارقام چې په شفاهي ډول ذکر شوي و، حداکثر ۱۰۰ دي. امریکا سره د طالبانو په توافق کې امریکا په یوجانبه ډول ژمنه کړې چې ۵۰۰۰طالب زندانیان به آزادوي او دا ژمنه د مارچ تر ۱۰ ده.

جنرال کارټر: تاسي سره مشوره نه وه شوې؟

جمهوررئیس غني: نه، موږ دا رد کړي و، قطعي مو رد کړي و. ما د سولې ټوله توافقنامه مطالعه کړې و، تاسي پوهیږی چې زه خپله کار خانګي کوم، دا کار د یو اوربند څخه د مخه [سم نه و]، هغه هم یو جامع او دایمي اوربند په بدل کې چې ښاغلي اسپر او د ناټو عمومي سرمنشي هم پر هغه ټینګار کړی و، لکه موږ چې په [۲۰۱۸] کې یو اوربند وکړ، هیڅ مشوره راسره ونشوه.

سربېره پر دې، د امریکا متحده ایالات یو جانبه تعهد کړی و چې د طالبانو پاتې زندانیان به هم په درې میاشتو کې خلاصوي. له بده بخته بیا وایي امریکا د افغانستان حاکمیت ته درناوی کوي او په داخلي چارو کې یې لاسوهنه نکوي.

موږ ضرب العجل راکړل شو چې دوی باید خلاص کړو. د زندانیانو شمېر لومړیو کې څو سوه و، خو بیا وروسته زرګونو ته ورسېدل، بیا خبره ۵۰۰۰ته ورسېده چې ۴۰۰ یکې داسي کسان و چې د ناټو د غړو هیوادونو سرتېرې یې وژلي و، په ځانګړي ډول فرانسه او استرالیا پدې هکله ډېر اندیښمن وو. احتمالا ۴۰ تنه د مخدره موادو ستر نړیوال قاچاقبران پدوی کې شامل و.

زه مجبور شوم چې د دوی خوشي کولو لپاره لویه جرګه را وغواړم [دومره لویه پرېکړه د ملت له مشورې پرته ما نشو کولای]. همدارنګه د امریکا بهرنیو چارو وزیر پمپیو یو خط موجود دی چې مستقیما یې د افغانستان خلکو ته ډاډ ورکړی دی:

اول، متحده ایالات به طالبان تاوتریخوالي کمولو او [د افغانستان اسلامي جمهوریت سره] مستقیمو مذاکراتو ته مجبوروي.

دویم، متحده ایالات د یو مستقل، یو موټي او ډموکراتیک افغانستان ملاتړ کوي چې هم په کور دننه سوله ولري او هم ګاونډي هیوادونو سره.

پمپیو ماسره اړیکه کې شو او ماته یې ډاډ راکړ وې ویل، زندانیان ستاسي د فشار وسیله نده، بلکي امریکا ده. خو دغه ژمنې هیڅ یوه ترسره نشوې. کله چې تېر ته ګورو، له هغه سند [د طالبانو او امریکا هوکړه] څخه د افغانستان د اسلامي جمهوریت پاکول د اکست په میاشت کې د سقوط اساسي لامل شو. طالبانو موږ سره د سیاسي مذاکراتو څخه انکار وکړ او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

موږ ته به یې ویل چې تاسې څوک یاست؟ حتا د زندانیانو په اړه یې ویل چې دا د متحده ایالاتو ژمنه ده چې پر هغې به عمل کوي.

پدې توګه مهمه ده چې پوه شو د افغانانو په مالکیت او مشرۍ یوه پروسه چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه یې ملاتړ درلود، له منځه یوړل شو.

جنرال کارټر! دغه پروسه دومره پټه وساتل شوه چې حتی د امریکې ملي امنیت مشاور، جان بولټن ته د هوکړې کاپي ورنکړل شوه او یواځې ورته ورکړل شو چې وې لولي او بیرته ترې واخیستل شو. بولټن دا خبره یې په خپلو خاطراتو په کتاب کې لیکلې. موږ سره هیڅ سند شریک نه شو او سلګونه نظرونو ته هم هیڅ توجه ونشوه.

واضح خبره ده چې د پروسې او نتیجې مسوولیت د امریکې بهرنیو چارو وزارت د مذاکراتي ټیم دی، په ځانګړې ډول دا پوښتنه چې د بهرنیو چارو وزارت حقوق پوهانو څنګه اجازه ورکړه چې دوه دومره متفاوت هوکړه لیکونه چې په هیڅ ډول اختلاف یې سره منځه نشي تلی ترتیب شي.

زموږ مذاکراتي هیأت خورا متحد پاتې شو او له اساسي ارزښتونو یې تمرکز لرې نشو. زما ژمنه خلکو سره دا وه چې د سولې پروسه کې به شفافیت وي، ځکه د سولې دوام لپاره شفافیت اړین دی. وروستۍ خبره، د ۲۰۱۹ کال په جنوري کې مې جمهوررئیس ټرمپ ته یو لیک واستوه او ورته مې وویل که وتلو اراده لرې، نو باید په ټولو مسایلو بحث وکړو. ما په دوه اړخیزې امنیتي توافقنامې (BSA) او ستراتیژیک مشارکت په توافقنامې(SPA) استناد وکړ. همدارنګه مې د اپریل په میاشت [۲۰۱۹] کې پمپیو ته لیک ولیکه او په تفصیل مې څرګنده کړه چې کوم بهیر چې د سولې په نوم روان دی، بې نظمه دی او په افغانستان کې کورني بې اتفاقي زیږوي.

جنرال کارټر: آیا د هغو دوو لیکونو ځواب مو وموند؟

جمهور رئیس غني: یو ځواب دا و، چې د سي آی ای رئیس او مرکزي قوماندانۍ (CENTCOM)قوماندان راغلل. هغوی زموږ اندیښنې یې یادداشت کړې مګر هیڅ ځواب ور سره نه و. تاسې په دې پوهیږئ، اساسي مسئله دلته ده، چې د امریکا امنیتي برخه پدې باور و، چې په دوامداره توګه [تر هغې چې سوله نه وي شوې] پاتې کېدل د متحده ایالاتو په ګټه و. طبعا هغوی نه شو کولای چې د خپل اعلی سرقوماندان په استازیتوب خبرې وکړي او وې ویل چې د هغه (ټرمپ) نظر هره دقیقه بدلیږي. دغو خبرو زموږ امنیتي برخه غافل کړ، ځکه هغوی په تکتیکي کچه کار کاوه.

دویم ځواب واضحه و، زما په وړاندې یو سراسري کمپاین پیل شو چې غني د سولې مانع دی، د نړیوالو رسنیو سرلیکونو کې او همدارنګه په داخلي رسنیو کې ټول سرلیکونه زما په ضد و. بلې ما ځواب تر لاسه کړ. او بل ځواب د بهرنیو چارو وزیر پمپیو لیک و چې واضح خبرې یې پکې کړې وې او لوېې جرګې ته یې ډاډ ورکړ او چې متحده ایالات به د ارزښتونو په فاع کې زموږ تر څنګ پاتې کیږي او موږ باید د سولې لپاره ریسک ومنو. پدې برخه کې موږ بشپړ توافق درلود. زه د سولې لوی پلوی وم. زما انتخاباتي شعار او پلټفارم سوله وه، مګر د دې مسؤلیت زما دی چې ما د دوی په ډاډ ورکولو او خبرو باور وکړ او دا مسؤلیت به ګور ته وړم.

جنرال کاټر: پوه شوم! د سیمې نور قدرتونه پدې برخه کې اساسي نقش درلود لکه پاکستان. تاسې په یاد لری، چې د ۲۰۱۸ کال په دویمه نیمایي کې مو ماته بلنه راکړه، چې د یو منځګړي په صفت ستاسې او د پاکستاني حکومت تر منځ اوسم. ستاسې تمه څه وه چې څه پایله تر لاسه کړئ؟

جمهور رئیس غني: مشترکې ګټې. تاسې په یاد لرئ چې زه پاکستان ته لاړم او د پاکستان لوی درستیز جنرال راحیل شریف او نورو سره سره مې ولیدل. حتی GHQ ته لاړم چې د هغې له وجې په کور دننه له نیوکو سره مخامخ شوم. له بده مرغه واقعیت همدا دی چې د افغانستان مسئله پاکستاني پوځ او استخباراتو سره ده ځکه هغوی ته مې مراجعه وکړه.

موږ د یوې نا اعلان شوې جګړې قربانیان و. ما غوښتل هغه جګړه پای ته ورسوم. زه له پاکستان سره د یوې ریښتوني همکارۍ برنامې غوښتونکی وم. زه چې اوس تېر شوي وخت ته ګورم، یو موضوع ته چې موږ ټولو باید پام کړی وی دا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

و چې د پاکستان پوځي واکمن او مشر جنرال مشرف د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۲ مې نېټې وینا وه. بشپړ متن یې په CSPAN کې شته. هغه په شدت سره ناهیلي ځرګنده کړه او وې ویل، چې پاکستان مجبور دی او باید د خپل وجود په اړه پرېکړه وکړي. دا شبېه د پاکستان د بقا د آزمايښت شېبه ده او هغه تصمیم نیولی، چې د متحده ایالاتو په څنګ کې ودرېږي سره له دې چې نه پوهېږي، چې هغوی څه غوښتنه لري. د امریکا له خوا دوی ته داسې ګواښ دوی خپله کلکه بې عزتي وګڼله او تر آخره یې له یاده و نه ویسته. پاکستان د deep state په وسیله کنترولیږي او دا deep state یو فوق العاده تکتیکي ظرفیت لري، دغه ظرفیت دوی لومړی د شوروي اتحاد د یرغل په مهال او بیا دویم ځل د امریکا د جګړې په دوران کې وښودله. متحده ایالاتو پاکستان سره د تعامل هېڅ عملي لاره پیدا نکړه. زما هیله دا وه (چې تاسې هم یکې خپلې هلې ځلې وکړې ځکه ستاسې اړیکه پاکستان سره متفاوته ده او خبرې ته مو غوږ نیول کیږي) چې پاکستان ته قناعت ورکړو چې یو ودان افغانستان د پاکستان په ګټه ده نه په تاوان. موږ په سیمه ییزه کچه ډېر څه کولی شو، او په بدل کې زموږ یواځنی غوښتنه په خپله خاوره خپل حاکمیت و، پدې هم پوهېدو چې زموږ حاکمیت لپاره پاکستان یو اساسي عنصر دی. یواځنی موضوع چې ما پاکستان سره پرې خبرې نه وې کړې د ډیورنډ مسئله وه، او هغه هم ځکه چې دا زما د واک خبره نه وه(پدې اړه یواځې د کرښې دواړه غاړو افغانان پرېکړه کولی شي)، افغانستان یو قوي او باثباته دولت ته اړتیا لري تر څو وکولی شي پدې موضوع بحث وکړي، پرته له دې موضوع نور ټول موضوعات د بحث وړ و تر څو یو واقعي دولت-دولت اړیکي ایجاد کړو. زما او ستا پر هڅو سر ببره، له بده مرغه پاکستان تغیر ونکړ او پاکستان د نړیوال قانون حاکمیت او همکارۍ او د هېوادونو استقلالیت ته یو اساسي ګواښ دی.

پاکستان د یو زخمي انسان احساس کوي، دوی احساس کوي چې د بحران په شېبو کې همکاري کوي، خو وروسته هېرېږي. اوسنی حالت پاکستان ته لویه بریا ده. هغوی په دوامداره توګه په خپله لوبه کې کامیاب شوي، د طالبانو تر شا د پاکستان د جنرالانو لاس اوس لکه لمر روښانه دی. طالبانو بې له پټنځای، بې له ملاتړه، بې له درملو، بې له هغو ټولو تجهیزاتو او بمونو چې افغانستان یې له تباهۍ سره مخ کړ هېڅکله بریالي کېدلی نشول.

او اوس کابل کې د پاکستان سفیر د وایسرای نقش لري، لکه د روسيې سفیر چې د شوروي یرغل په مهال لره. مګر دا دوام نشي کولی. له دې ټولو درس دا دی چې پاکستان د خپل نفوس، جغرافیایي موقعیت، هسته یي اسلحو [ته په اندېښنه کې دي]، او زه فکر کوم پاکستان په ځانګړې توګه د جنوبي آسیا لپاره د ټرمپ د ۲۰۱۷ کال له ستراتيژۍ وروسته واقعاً د خپلو هستوي تاسیساتو تهدید ته په اندېښنه کې و، ځکه چې ټرمپ په ځرګنده توګه ویلي و چې موږ اجازه نه ورکوو، چې د پاکستان هسته یي تاسیسات د تروریستانو لاس ته ولوېږي. پرته له تعقیبي ډیپلوماتیک فشار څخه پاکستان لفظي تهدید بې ګټې و او هغوی یې غوسه کړل، او د دې غوسې سړولو لپاره پاکستان په افغانستان کې وینو بهولو ته زور ورکړ او وروسته د متحده ایالاتو په لیډلورۍ کې هم بدلون راغی [او یواځني قربانیان افغانان و]. یوه بله مهمه موضوع دا وه چې د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ د ۲۹ نېټې د هوکړه لیک د ارزیابۍ لپاره د متحده ایالاتو د ملي امنیت شورا هېڅ جلسه نه ده دایره شوې. یوازې یوه جلسه پدې اړه شوې وه او هغه هم ډېر په ځنډ. په همدې دلیل ټولو امنیتي مسؤلینو سره چې زما خبرې نه وې شوې نه پوهېدل چې آیا رښتا دوی ته د اخراج امر شوی که بل څه؟ دوی منتظر و چې راتلونکې کې به څه کیږي.

جنرال کارټر: بالکل، د راتلونکي په اړه څه نظر لرئ؟ منظور مې دادی، چې موږ او تاسې ټول د داعش پدېدې را ځرګندېدو ته اندېښمن یو. د ژمي راتګ او وچکالۍ پېښېدو سره موږ ټول افغانستان کې د یوې بشري فاجعې پېښېدو ته تشویش لرو. پدې اړه تاسې څه نظر لرئ؟

جمهور رئیس غني: مننه، دا زما اساسي تشویش هم دی او تمرکز پرې لرم.

لومړی موضوع د ترهګرۍ ده. لکه څنګه چې جمهور رئیس اوباما د نوبل جایزې اخیستو په مهال خپله وینا کې وویل، د سپتمبر د ۱۱ نېټې تراژیدي د څو کوچنیو سړیو کار و چې ژور نفرتونه یې زړه کې ساتلي و او د نوي ټکنالوژۍ په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

استعمال یې یو زوړ تکتیک عملي کړه. ترهګري اوس یو ایکوسیستم دی. القاعده او داعش د یو سازمان په توګه ممکن تنزل کړی وي. مګر د یو ایکوسیستم په توګه موږ واقعاً له یو لوی ګواښ سره مخامخ یو. افغانان یوه اساسي پوښتنه لري: آیا طالبانو سره د امریکا هوکړه طالبانو او پاکستان ته د تروریزم په وړاندې د جګړې اوټسورس (outsource) کول و؟ یا آیا هدف دا و چې افغانستان څخه وتلو لپاره یوه لاره پیدا کول و؟

طالبان د امنیت راوستلو ادعا لري، مګر حقیقت دا دی چې امنیت ځکه راغی چې طالبانو خپله جګړه درولې. د وینې تویولو مسؤلین همدوی و. دوی هیڅ ډول امنیت ندی راوستی، بلکې خپله جګړه یې درولې، خو له بلې خوا بل ډول تاوتریخوالي ته لاس اچولی: د امنیتي او دفاعي ځواکونو وژل، د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی، اجباري ودونه او نور چې خلک یې بیانوي.

دا ډېره اساسي مسئله ده، ځیني درسونه ډېر مهم دي. ما د ۲۰۰۱ کال سپتمبر په ۲۷ د فایننشل ټایمز په مجله کې یوه مقاله لیکلې (The Folly of Quick Action.) په یاده مقاله کې ما ویلي و چې افغانستان ته باید د یو پلان په اساس ورغلي وي، کنه ډېر څه د خطر سره مخ کېدی شي. د تروریزم په وړاندې جګړه اعلان شوه او اردو ته مسؤلیت وسپارل شو او استخباراتي ادارو ته پراخ صلاحیتونو ورکړل شول. هغه مبارزه چې د عدالت تأمین لپاره پیل شوی و د انتقام په جګړې بدل شو. جګړه د ستراتیژیک پر ځای تکتیکي بڼه خپله کړه او ورځ په ورځ پراخېده.

لومړی اساسي ستونزه دا وه چې تروریزم د اسلامي تروریزم په بڼه توضیح شو. تروریزم اسلام سره هیڅ اړیکه نه لري. سره له دې چې په تېرو ۲۰۰ کلونو د هر مذهب پیروان تروریستي تکتیکونه ته لاس اچولی، د هغوی تکتیکونه ته هېڅکله مذهبي بڼه ورنکړل شوه. یو دمې دغه ستونزه د یو میلیارد مسلمانانو ستونزه وبلل شوه، او پر عراق یرغل [د امریکا جګړه] د سیمه ییزې اجماع له منځه وړلو یوه اساسي مرحله وه. موږ سیمه ییزې اجماع ته اړتیا لرو، د اسلامي نړۍ اجماع ته اړتیا لرو. زما لومړی خبره دا ده چې اسلام او تروریزم باید سره جلا شي. د اسلام په وړاندې کرکه به ډېر لوړ قیمت ولري او د تاوتریخوالي د بیا بیا زیږېدو لامل ګرځي.

دویم، ډېر تمرکز باید په استخباراتو، پولیسي او اقتصادي او سیاسي عملیاتو وي تر څو مبارزه [تروریزم سره] اغېزمن وي.

دریم، اروپا او آسیا باید د دې مبارزې په سر کې وي، ځکه دوی تر تهدید لاندې دي او له همدې ځایونو سرچینه اخلي. د پاکستان ستونزه باید حل شي. یو منځمهاله پلان باید ایجاد شي تر څو پاکستان سره مرسته وکړي چې باثباته شي، هلته حالات خراب دي او پر دوی د هغه افراطیت چې دوی خپله زیږولی تأثیرات شوي.

جنرال کارټر: که د راتلونکي خبرې ته لاړ شو، زه پوهېږم چې تاسې یې وړاندوینه وکړه، زما پوښتنه دا ده چې آیا تاسې زموږ په څېر افغانستان کې دننه د داعش د پورته کېدو تشویش لرئ؟ او فکر کوم تاسې بشري فاجعې پر موضوع هم غوښته خبرې کړئ.

جمهور رئیس غني: بالکل زه هم دا تشویش لرم. ډېر کلونه ما د غربي استخباراتي ادارو څخه غوښتنه وکړه چې تروریزم ته د ایکو سیستم په نظر وکتل شي او یو همغږی ستراتیژي باید ایجاد شي تر څو دغې پدیدې سره مبارزه وشي. ما ویل چې د داعش، القاعده او هغه وخت کې طالبانو په څېر پدیدې سره په تکتیکي ډول مبارزه نشي کېدی. د جګړې سنګرونو یو ترکیب د یوې مبارزې ستراتیژي نشي جوړولای. نو باید پدې موضوع تأمل وشي. داعش ځکه مخ په ځواکمنېدو دی چې دوی د طالبانو خپله وسله په بېرته په همدوی استعمالوي. داعش د طالبانو شاګردان دي، او د طالبانو څخه یې الهام اخیستی. له بده مرغه یو مکمل نسل پرته له تاوتریخوالي او انتحاري څخه بل څه نه دي زده کړي. ستاسې معلوماتو لپاره یې باید ووایم چې انتحاریان به په بازار کې خرڅېدل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

له بده مرغه طالبانو د افغانستان له تاریخه هېڅ زدکړه نه ده کړې. په زوره د قدرت نیول تل په زوره چپه کېږي هم. افغانانو څخه د یو ټولشمولي ملي سولې حق اخیستل د تاوتریخوالي د نوي څپې باعث شوی. له بده مرغه نړیواله ټولنه (د شوروي اتحاد او امریکا) افغانستان کې د دخیلېدو دواړو خلو کې پر زور تاکید کوه او پدې فکر و چې د خواک استعمال د حل لاره ده. افغانستان لپاره باید د سولې یو اساسي پلان موجود وي. اوس طالبان واکمنان دي، دوی باید مسؤلیت هم واخلي.

جنرال کارټر: په بخښنې سره، مخکې له دې چې بشري بحران ته موضوع ته لاړ شو، ډېر خلک پدې بحث کوي چې آیا اوسني طالبان د ۲۰۰۱ کال څخه د مخه طالبانو څخه متفاوت دي؟ آیا ستاسې په نظر دوی په دې خبره پوه شوي چې افغانستان په تېرو ۲۰ کلونو کې بدل شوی؟

جمهور رئیس غني: له بده مرغه حالات ښه نه ښکاري. مخکې له دې چې د تغیر شاهدان واوسو، دوی باید لومړی پدې خبره پوه شي چې د دوی په اصطلاح بریا قیمت څه شی دی؟ دوی هېڅ مسؤلیت نه دی اخیستی. د بېلګې په ډول د ارغنداب درې پېښنو ته وګورئ، سپین بولدک او نورو ځایونو کې د دوی وینې تویولو او د قتال کچې ته وګورئ. پدې کې شک نشته چې دوی هم د تاوتریخوالي څخه متضرر شوي و چې د دوی د زېږون باعث شو، پدې هم باید پوه واوسو.
دویم، دوی مطلق انحصار ته مخه کړې، پرته له دې چې فکر وکړي چې دوی هغه مهارتونه نه لري چې هر څه وچلوي. درېیمه او تر ټولو بوږنونکې د ملا حسن وینا، هغه هم صوتي، چې یکې ویلي يي دي چې دوی د اوسني بشري بحران، اقتصادي سقوط او خلکو د وتلو او مهاجرت مسؤلیت نه لري. په زرګونو افغانانو طالبانو څخه د تېښتې په موخه مهاجرت ته مخه کړې.
د کابل په هوایي ډګر کې ګډوډي ولې جوړه شوه؟ ولې ۲۰۰،۰۰۰ افغانان ووتل؟ که چېرې دوی په دې باوري شوي و چې حالاتو تغیر کړی، افغانستان کې پاتې کېدل. طالبان باید د افغانستان تنوع ته درناوی ولري. دوی باید دا خبره ومني چې افغانستان په تېرو ۲۰ کلونو کې بدل شوی، دوی د بیان او نظر د اظهار آزادۍ حق ولري او دا هم ډېره مهمه ده چې غرب پر افغانانو د جنګسالارانو یوه ډله تحمیل نکړي.

جنرال کارټر: آیا فکر کوئ که چېرې تاسې پاتې شوي وی دوی مو دې ته اړ ویستلو شو چې په دغو خبرو ځان پوه کړي؟

جمهور رئیس: نه. له بده مرغه ما پسې ډېر منفي تبلیغات شوي وُ، او موږ ته هېڅکله دا موقع مساعده نشوه چې دوی سره کېنو او خبرې وکړو. خلیلزاد دوی سره کېناسته. موضوع په بشپړ ډول امریکایي شوه او افغانان ترې حاشیې ته شول. زه پدې نظر یم چې اوس د حقیقي بحث امکان شته، ځکه دوی د دولت داری تر ټولو اساسي فکتور څخه، چې مشروعیت، برخمن نه دي. طالبان داخلي او نړیوال مشروعیت نه لري. اوس نړیوالو او سیمې ته لازمه ده چې دوی ته د مشروعیت ورکولو په برخه کې په متفق ډول عمل وکړي. د سولې پروسه کې دوی په مختلفو لارو لاړل، د مشروعیت په برخه کې باید داسې ونکړي. ځکه زه په دې باور وم، جنرال کارټر، چې د افغانستان مسئله نظامي حل لاره نه لري. په همدې دلیل د جګړې زیاتېدو سره سره موږ تر آخره د یو سیاسي جوړجاړي لپاره هڅه کوله. طالبانو او د دوی ملاتړو، آی ایس آی، پدې باور و چې د حل لاره جګړه ده، او ټوله انرژي يي په جګړه ولګوله. د تاوتریخوالي او جګړې شدت ته یې هر اړخیزه او په میتودیک ډول کار وکړ. دوی هېڅ ډول سیاسي جوړجاړي ته ژمن نه وو.

جنرال کارټر: زما پوښتنه هم همدا وه چې ستاسې مشوره نړیوالو ته څه ده چې څه ډول طالبانو سره تعامل وکړي، ستاسې نظر دا دی چې دوی مشروعیت ته اړتیا لري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جمهور رئيس غني: داسې يوه اجنډا بايد موجوده وي چې پر سولې، هيله مندې، مشروعيت، فرصت او تعلق متمرکز وي. مشروعيت تر ټولو اساسي موضوع ده، مګر پدې بايد پوه واوسو چې په يوه ورځ نشي تر لاسه کېدی. موږ بايد دا پنځه بعدي پروسه همزمانه پر مخ يوسو. هيله مندي د ټولو په سر کې راځي. د افغانستان نفوس ۴۱.۵ ميليونو ته رسيږي. د ۲۰۲۲ کال مارچ مياشتې پورې شاوخوا ۹۰٪ وګړي قحطی او ولږې سره مخ کيږي. اقتصاد سقوط شوی، د دې دليل دا نه دی چې سياسيونو او د تخنيکي برخې پوهانو وطن پريښې، بلکې دليل يې دا دی چې دوی شته جوړښتونه له منځه وړي. ما تر آخرو شپږو خلکو ته خواړه رسول، او بايد يې مې کړی وی ځکه د افغان ولس په وړاندې زه مسؤل وم.

طالبانو سره د نړيوال تعامل په برخه کې ځينې مهم موضوعات دي چې بايد ذکر شي. لومړی، افغانستان کې بشري بحران د هيڅ چا په ګټه نه دی، په ځانګړې توګه اروپا او آسيا ته. دا به د يو مهاجرت د يوې لويې څپې باعث شي. دويم، ستونزه يواځې افغانستان کې دننه ۴۱.۵ ميليونه خلکو پورې نه محدوديږي بلکې ۸۰ ميليونو ته رسيږي، د کرښې هاخوا پښتانه هم افغانان دي او د کرښې دې غاړه خپلو وطندارانو سره شريک تاريخ لري، همدارنګه ۶ ميليونه دياسپورا او مهاجر افغانان پدې کې شامل دي، دغه موضوع عاجلې پاملرنې ته اړتيا لري.

دوی د حل لارې موجودې دي:

لومړی دا چې خلکو سره کار وشي او د طالبانو حکومت بايد دا مرسته تسهيل کړي تر څو ستونزې ته د حل لاره پيدا شي. له بده مرغه په دويم کال کې د اقليمي وړاندوينو په اساس موږ به د يوې ډېرې شديدې وچکالۍ ښکار کيږو، زه دعا کوم چې خدای ج موږ له دې وچکالۍ څخه وساتي. پر زراعتي ثبات کار اړين دی. ښارميشتی نفوس له کلک بحران سره مخ دی، ځکه هيڅ ډول دنده او د عايداتي سرچينه نه لري. د دې حل لپاره زه په لسګونو د حل لارې وړانديز کولی شم.

دويمه موضوع د سيمې د خلکو د ګټو موضوع ده. موږ مخکې د کوويډ تاثيرات کنټرول کړي و. خو د کوويډ څلورمه او پنځمه څپه يوه نړيواله ستونزه ده. ځينې مسئلې دي چې منطقوي تاثيرات لري لکه د خلکو مهاجرت، جرمي ګروپونه، د مخدره موادو قاچاق او نور، په بل عبارت طالبانو سره بايد د بحث يوه اجنډا ترتيب شي چې دوی پدې برخه کې څه کولی شي. غواړم بيا يې ټوپير ته اشاره وکړم چې يوه برخه بشري بحران دی او بله برخه يې انکشافي، په همدې دليل يواځې د ملګرو ملتونو په اداراتو اتکا کول د وخت ضياع ده.

افغانستان کې ډېر منابع شته چې انسجام ته اړتيا لري. زه کولی شم پدې برخه کې مشخص بحث ولرم. که خلکو ته هيله مندي پيدا شوه، ستونزو ته د حل لاره هم پيدا کيږي. فرصت هغو ګروپونو پورې مربوط کيږي چې معاش نه ورکول کيږي. نه د ملکي خدماتو مامورينو او نه هم د امنيتي سکتور معاش لري، په ځانګړې ډول ښځې هيڅ ډول عايد نه لري او له شديدې ولږې سره مواجه دي. څنګه کولی شو چې دغې ټوپير ته متوجه شو؟ ځکه دلته موضوع بايد مشروطه وي. مشروعيت تر هغې نشي تر لاسه کېدی تر څو چې سوله نه وي شوي. زما وړانديز نړيوالې ټولنې ته دا دی چې د دې انتخاب څخه اجتناب وکړي چې څوک ګټونکې او بايلونکې دي. پريږدئ چې يوه پروسه پر مخ لاړه شي. لويه جرګه يوه ډېره مؤثره ملي پروسه ده. د يو څو کلونو لپاره بايد وخت پورې محدود ځينې شرايط موجود وي.

جنرال کارټر: لطفا لويه جرګه زموږ اوريدونکو ته تشريح کړئ؟ څنګه ترتيبيږي او څه نتيجه ورکولی شي؟

جمهور رئيس غني: لويه جرګه زموږ يو قديمي نهاد دی او دا د افغانستان د ټولو قومونه او ژبنيز ګروپونو شريک ميراث دی. د جرګې کلمه ترکي او دري ريښه لري او لويه پښتو کلمه ده چې مانا يې ستر دی. دغه نهاد په وروستيو کې ډېر ديموکراتيک شوی، ځکه چې د غړو انتخاب د همغو خلکو له خوا په رايو کيږي د چا استازيتوب چې دوی کوي. زه د دوه وروستي لويي جرګو د جوړولو وياړ لرم چې د ۲۷ اقشارو استازيو پکې برخه اخيستې وه او د ښځو او ځوانانو پکې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ملاحظي وړ حضور درلود. لویه جرګه معمولا په دغسي حالاتو کي دايرېږي، ۵۰ کمېټي پکي وي او يادي کمېټي په مشخصو موضوعاتو بحث کوي او نظر ورکوي. لویه جرګه په مشورتي بڼه تر سره کيږي او د ټول ولس استازيتوب پکي وي. همدا نهاد په ۲۰۰۲ کال کي انتقالي حکومت ایجاد کړ او په ۲۰۰۴ کال کي اساسي قانون تصويب کړ.
طالبان په کوم اساس حکومت کوي؟ څوک چاته مسؤل دی؟ افغانان باید یوې هوکړې ته ورسيږي. که چېرته یو قوم یا ژبنيز ګروپ یا کومه سیمه هم له دې پروسې نفي شي، دا خپله یوې نیابتي جګړې ته دعوت دی. طالبان باید پدې خبره پوه شي چي د کمیونستانو او مجاهدینو د تېروتنو تکرار به دوی هم په آرامه پرې نږدي. دوی په همغه لاره روان دي. څوک محروموول، پر زور او وژنو اتکا کول هېڅ نتیجه نه ورکوي. افغانان خدمات غواړي، فرصتونه غواړي، او همدا د دې پروسي مهمې برخې دي. یو واقعي تفاهم لپاره بحث ته اړتیا شته. که چېرته دوی ځیني افرادو سره ستونزه لري، هغوی دې د پروسي برخه نه ګرځي. راځئ چي یوې داسي هوکړې ته ورسيږو چي د دومره کلونو لپاره ځیني افراد هېڅ انتخاباتو ته نه دریږي او سیاسي فعالیت به نه کوي. موږ باید ملت ته پر افرادو ترجیح ورکړو.
همدرانګه، د فساد حساب باید وي. د هر کس تحقيق باید وشي چي د افغانستان حکومت کي د ۲۰۰۱ څخه تر اوسه کار کړی. حتی ټول نړیوال حسابونه باید واضح شي چي چاته څومره ورکول شوي دي. د سوءاستفاده حساب هم باید وشي. د دې حساب باید وشي چي ولي ځینو کسانو ته ۱۰۰ زره جریبه ځمکه په یو لاسلیک ورکړل شوی؟ که چېرته دوی غواړي له دې تېر شي او مخ پر وړاندې لاړ شي، دا پرېکړه هم باید لویه جرګه ونیسي. موږ باید دې نتیجې ته ورسيږو چي د امنیت تعریف یواځي د جګړې دریدل نه دي، انساني امنیت او تعامل باید موجود وي.
هېڅ څوک هېڅ افغان ته د پردیتوب احساس ورکولو حق نه لري. دا ځمکه زموږ د ټولو ده. د ښځو او سړو. د ټولو ژبو د ویونکو. پوهیږي، موږ ۳۴ ژبې لرو چي څلور یې لویې دي. موږ ته باید د دې فرصت راکړل شي چي دې نتیجې ته ورسيږو. نړیواله ټولنه باید له خپلو تېروتنو زدکړه وکړي او په پروسه کي لاسوهنه ونکړي بلکي ملاتړ یې وکړي.
د سیمه ییز عام المنفعه کارونو په برخه کي باید ووایم چي ډېرې پروژې تر کار لاندې دي، جنرال کارټر. د تاپي پایپلاین باید اوس هرات ته رسېدلی وی. نوري داسي پروژې لکه د اورګادي پټلی، د برق او انرژي د لېږد لاینونه او اوبو پروژې.
۲۶ منځني د اوبو بندونه تر کار لاندې و چي د وچکالی ستونزه حلولای شي.
د نړیوال لید په اساس د بشري بحران د کنترول په برخه کي، ۵ میلیونه افغانان الکترونیکي تذکرې لري، په ځانګړي ډول کابل میشتي. الکترونیکي تذکري او زموږ هغه اصلاحات چي مالیي وزارت او د افغانستان بانک کي موږ راوستي کولای شي چي پیسي خلکو ته مستقیم ولیږل شي. د شته بشري بحران حلولو لپاره داسي لارې شته چي ارزانه دي او د خلکو اقتصادي مشکلات کموي.
داسي احساس کیږي چي خلک ساه ویستلی نشي، مطلق خفک شوي. اسلام زموږ د یووالي تر ټولو لویه وسیله ده، دا چي موږ اسلام څنګه تفسیروو دا دې موږ ته پرېښودل شي.
زما پایلنی ټکی د بازار په اړه دی، سوداګري د بهرنیو مرستو څخه ډېر اغېزمن دی. د صادراتو یو ډالر د مرستي له ۲۰۰-۱۰۰ ډالر سره برابر دی. مرسته مؤثره نده تمامه شوي بلکي تکتیکي ګټه یې کړې. د بریتانیې په استثنا، پر قراردادیانو اتکا وه او پر لویو پروسو د تمرکز پر ځای پر وړو حسابدهیو تمرکز شوی، دا باید بدلون ومومي. سیمه باید د افغانستان ستونزې خپل وګڼي.

جنرال کارټر: بالکل، موږ او تاسي له ډېره پخوا سره اړیکه کي یو. تاسي د یو ډېر اوږد مهال لپاره خاموشه وئ، ۱۰۰ ورځي پدې فکر که به وئ چي څه وشول، حکومت او افغانستان سره ستاسي تړاو، آیا تاسي کومه پښېمانتیا لرئ؟ څنګه احساس لرئ؟ موږ غواړو پوه شو، چي ستاسي تعهد ته په کتو په تاسو څه تیریږي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

جمهور رئیس غني: زما د ټول ژوند کار له منځه یوړل شو. زما ټول ارزښتونه تر پښو لاندې شول او د هر څه پړه پر ما واچول شو. زه افغانستان پداسې حال کې راګرځېدم چې له خپله مرګه ښه خبر وم. ما په ۱۹۹۶ کال کې د خپلې ګېډې ۹۸٪ برخه د کنسر له امله لاسه ورکړه. زه خپلې خاورې او خپل ولس ته پرته له خدمت څخه بل هېڅ ارمان نه لرم. ما خپل ټول ژوند د افغانستان او سیمې د تاریخ په مطالعه تېر کړ او پدې فکر وم چې داسې یو لید مې پنځولی چې کېدی شي زموږ بنیادي ستونزه حل کړي. د امریکا متحده ایالات او زموږ غربي همکارانو یو انتخاب درلود، یا دې د تروریزم پر وړاندې د خپلې مبارزې بڼه بدل کړي یا دې ووځي. مګر موږ په تمامه مانا ملي استقلالیت تر هغې نشو لرلای تر څو چې د تروریزم پر وړاندې جګړه روانه وه. ځکه خپلې خاورې لپاره زموږ هر فکر د یادې جګړې قرباني کېده.

جنرال کارټر: هو، زه تاسې شخصا پېژنم  او ستاسې پر تعهد خبر یم. تاسې په عام محضر کې ویلي و چې تاسې به تر مرګه درېږئ، د جمهور رئیس په صفت تاسې پر کوي او مسؤل ګڼي. ستاسې ځواب ورته څه دی؟

جمهور رئیس غني: بالکل، د دوی غوسه کاملا قابل درک ده. دوی دا حق لري چې ما مسؤل وګڼي، په ځانګړي ډول زموږ پر نړیوالو شریکانو تر آخر زما اعتماد او هېڅکله پر دوی انتقاد نه کول [زما څخه د مخه جمهور رئیس په څېر]. تاسې ته مالومه ده چې ما ټول فشارونه پر ځان تېر کړل تر څو د اوسنی نتجې مخه ونیسم. خلک حق لري چې په دې هم پوه شي چې پر ما د خارجیانو دوامداره تحمیل فرصتونه او زما واک محدود کړل. موږ مجبورا ۵۰٪ کابینه ډاکټر عبدالله او د هغو ملګرو ته ورکړ. امنیتي سکتور کې اصلاحات او د فرصتونو ایجاد په برخه کې موږ مقاومت او اختلاف سره مخ و. د اوس لپاره زما غوښتنه زما د افغان خویندو او ورونو څه دا دی چې پدې فکر وکړي آیا دا زموږ د وسعې څه پوره وه چې آیا دا شونې وه چې یوه خوا د جګړې اور بل وي او بله خوا موږ داسې بنیادي اصلاحات راوستی وی چې د هغه په اساس مو جګړه ګټلی وی. جمهوریت سیاسي ملاتړ له لاسه ورکړی و. زموږ نړیوالو همکارانو زموږ سیمه ییزې اړیکې متأثره کړې وې. زموږ ټولو ګاونډیانو غوښتل چې امریکا له افغانستان څخه ووځي.
زه پدې هیله یم چې د وخت په تېرېدو سره درک زیات شي، مګر د خلکو غوسه بالکل د درک وړ ده ځکه زه خپله هم د خپل ولس په څېر غوسه او آزار شوی یم. دا چې زه اوس هم تمرکز لرم دلیل یې دا دی چې غواړم راتلونکي لپاره داسې یوه لاره تعقیب کړو چې موږ آبادی ته ورسوي، زه هېڅ کومه شخصي اجنډا نه لرم بلکې غواړم افغانستان سره مرسته چې په سم لور روان شي. دلته هم نړیوالې ټولنې ته یو درس پروت دی.
یو بې طرفه افغانستان به ټولو ته ګټور وي نسبت هغه افغانستان ته چې د بهرنیو د جګړې ډګر وي. یواځې یو بې طرفه افغانستان سره کولی شي چې سیمه او نړیواله ټولنه اړ باسو چې په راشي او صداقت سره مرسته وکړي. اوس موږ د خبرپاڼو په سرلیکونو کې نه یو، او تر ډېره وخته به د نړۍ په یاد کې نه یو. ما همدغه خبره په کراتو کراتو د خلکو د توجه وړ وګرځوله.
آیا موږ ډېر څه کولی شو؟ بالکل مو کولی شو. په اوسط ډول ما د ورځې له ۱۴ څخه ۱۶ ساعته کار کوه. د جمهور رئیس په توګه ما یواځې دوه ځلې بامیان ولایت کې ۴ ساعته تفریح کړې، له دې پرته نور ټول کار، کار و. خو که چېرې موږ پدې پوه شوي وی چې د پوځیانو خروج به لویه مسئله وي، او زما د۲۰۱ کال لیک ته مثبت ځواب ورکړل شوی وی، پایله به یې بل ډول وه. مګر موږ ته ډاډ راکړل شوی و چې سوله کې به موږ سره مرسته کیږي. له بده مرغه چې هغسې نشول. خو دا هم د نړۍ د نظم برخه ده.
زموږ د ټولو لویه ستونزه دا وه چې موږ پدې فکر و چې موږ سره د نړیوالې ټولنې زغم دوام کوي. دلته درس دا دی چې موږ داسې یوه لاره پیدا کړه چې موږ ملي روغې جوړې او استقلالیت ته ورسوي او حسابدهي رامنځته کړي تر څو موږ ټول یو، بل سره بیا یو ځای ژوند وکړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**جنرال کارټر: ډېره مننه ښاغلی جمهور رئیس. دي مکالمه کي ډېر درسونه شته. ډېره مننه چي ما سره مو دا مرکه وکړه. موږ ټول افغانستان ته تر ټولو ښه راتلونکی غواړو. زما په اند طالبانو سره د تعامل په برخه کي ستاسي مشورې ګټورې دي. ډېره مننه چي نن سهار له موږ سره پاتي شوې.**

**جمهور رئیس غني: مننه جنرال کارټر اول له بي بي سي هم مننه.**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ